د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**٨/ ربيع الثاني /١٤٤٦ هـ، ق مطابق ٢٠ / ميزان /١٤٠٣هـ، ش**

# د اسلام له نظره د سخاوت ګټې او د بُخل بد انجام

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمدلله الواحد القهار ، جعل في تعاقب الليل والنهار عبرةً لأولي الأبصار ، وأشهد أن لا إله إلا الله العزيز الغفار ، حكم بفناء هذه الدار ، وأمر بالتزود لدار القرار وأشهد أن نبينا محمداً عبدالله ورسوله المصطفى المختار ، صلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله الأطهار ، والصحابة الأبرار ، والتابعين ومن تبعهم بإحسان ما تعاقب الليل والنهار ، أما بعد:
قال الله سبحانه وتعالى:{ وَأَنْفِقُوا خَيْراً لِأَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ * إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ} التغابن:(١٧)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!**

که چيرې د چا سره مال نه وي، نو د مسلمان شان دادی چې بايد قناعت ولري او زيات حرص ونه کړي او کـه چيـرې چـا سره مال موجود وي ، نو مسلمان لره ښايې چې سخاوت وکړي او په نيکو لارو او د خلکو دحاجتونو په رفع کولـو کـې يـې ولګوي اوځان د بُخل او بخيلۍ څخه وساتي؛ ځکه سخاوت د پيغمبرانو اخلاق دي.
سخاوت او بُخل دواړه يو له بل سره متضاد کلمې دي او متضاد اخلاق دي چې دواړه په مسلمان کې نه جمع کيږي.
سخاوت ديته ويل کيږي چې د خلکو د حاجتونو د رفع کولو لپاره پرته له احسان څخه مال خرچ کوي او ځينې علماء وايـي چې حقيقي سخاوت داده چې د مال په ورکړه باندې خوشحاليږي. مختصر منهاج القاصدين للمقدسي (٣ /٧٤)
او بُخل د هغه مال منع کولو ته ويل کيږي چې ورکول يـې واجب وي. او بخيـل انسان پـه دې حـريص وي چـې مـال يـې ذخيره وي اوپه هيڅ ځای کې مصرف نشي.
دسخاوت او د بُخل په معنا ګانو کې وسعت پروت دی ، سخاوت د نورو خلکو حاجتونو پوره کولوته ويل کيږي، کـه هغـه د مال په لګولو سره وي او که د هغه په واک کې د کومې وسيلې په ورکولو سره وي او که چاته د علم او هُنر پـه ښـوولوسره وي او که چاته په لارښوونه سره وي او که له چا سره په مرسته کومک کولو سره وي ، مقصود داچې سخاوت نورو خلکـو ته خير رسول دي ، د همدې امله له سخاوت څخه په عربي ژبه کې په (کَرَم او جُود) سره هم تعبير کيږي.
همدا راز بُخل خلکو ته د خير رسيدلو څخه ممانعت کول دي او خلکو ته دخير د رسيدلو بندول دي؛ اګر چـې پـه مشـهوره اصطلاح کې بُخل دواجبي مال نه ورکولو ته بُخل ويل کيږي، خو بُخل له خلکو څخه هر ډول خير بندولو ته ويل کيږي لکه په مال بُخل، چاته د وسيلې په ورکولو بُخل، په علم او پوهه بُخل کول او داسې نور. د همدې امله امام راغب رحمـه اللـه د بُخل په تعريف کې وايي:(لَمْ يُرِدِ الْبُخْلَ بِالْمَالِ، بَلْ بِجَمِيعِ مَا فِيهِ نَفْعٌ لِلْغَيْرِ). [تفسير البحر المحيط (٣ /١٩٩)]

ترجمه:- يواځې په مال باندې بُخل كول يې اراده نه وي؛ بلكې د هر هغه څه منع كول يې اراده وي چې خلكو ته ور څخه نفع رسيږي.
تر ټولو لويه درجه سخاوت داده چې د خپل حاجت باوجود، د نورو خلكو دحاجت لپاره مال لګول دي، چې دې مرحلې ته (ايثار)ويل كيږي او په قرآن كريم كې الله تعالى د هغوخلكو صفت بيان كړى دى چې دا ډول سخاوت كوي.او تر ټولو بد بُخل او كنجوسي داده چې دخپل حاجت او ضرورت باوجود هم په خپل ځان مال نه لګوي.ډير داسې بخيلان شته چې ښه به مالداره وي خو چې مريض شي په ځان به خپل مال نه لګوي او مال به ذخيره كوي او ښه خوراك ته به يې زړه كيږي خو په ځان به خرچه نكوي.مختصرمنهاج القاصدين للمقدسي (٣ /٧٤)

### الف: د سخاوت ګټې:

سخاوت د اسلام عظيم اخلاق دي او صالح عمل دى چې الله تعالى ور باندې امر كړى دى او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه ترغيب وركړى دى.
سخاوت او كرم د الله تعالى د صفاتو څخه دي . الله جل جلاله فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ * الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ * فِي أَيِّ صُورَةٍ مَا شَاءَ رَكَّبَكَ).الانفطار:(٦-٨)
ترجمه:- اى (كافره) انسانه! ته په خپل كريم (او سخي) رب باندې څه شي دوكه كړى يې هغه چې ته يې پيدا كړې، نو ته يې ښه برابر كړې په هر صورت (شكل) كې چې هغه غوښتل، ته يې پيوند (او جوړ) كړې
په حديث شريف كې راځي: عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ جَوَادٌ يُحِبُّ الْجَوَادَ، وَيُحِبُّ مَعَالِيَ الْأَخْلَاقِ وَيَكْرَهُ سَفْسَافَهَا» مصنف ابن أبي شيبة (٥ /٣٣٢)
ژباړه:- د طلحه بن عبيدالله بن كريزرضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشكه الله تعالى سخي ذات دى او سخاوت كوونكى خوښوي او خوښ ګڼي غوره اخلاق او بد ګڼي سپك اوفاسد خويونه.
سخاوت د رسولانو او پيغمبرانو صفت او عادت دى. الله تعالى د ابراهيم عليه السلام د سخاوت ذكر كوي او فرمايي: ﴿ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ * إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ * فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ * فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴾ [الذاريات: ٢٤ - ٢٧].ترجمه:ايا ته د ابراهيم د عزتمنو مېلمنو خبر رارسېدلى دى كله چې دوى په ده ورننوتل، نو ويې ويل:(مونږ په تا سلام اچوو) سلام اچول، ده وويل: (په تاسو دې سلام (وي او په زړه كې يې تېر شول چې دا) نا اشنا خلق دي نو په تېزۍ سره خپلې ښځې ته لاړ،پس يو (وريت كړى) چاغ سخى يې راوړنو دغه يې دوى ته ورنژدې كړ،ويې ويل:تاسو ولې نه خورئ!
ابراهيم عليه السلام ملائكو ته وويل چې تاسې نااشنا خلک ياست ، بيا هم په نه پيژندګلوۍ كې كورته لاړ او دوى ته يې چاغ وريت كړى سخى په ميلمستيا كې راوړ چې د سخاوت لويه درجه تمثيلوي.
زمونږ ستر پيغمبر محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم په سخاوت كې سارى نه درلود او په سخاوت كې د كمال مرتبې ته رسيدلى ؤ او د الله تعالى په لاره كې وركړه يې غوره صفت ؤ اوهيڅكله د فقر څخه نه ويريده او دالله تعالى په وركړه او عظيم فضل يې عين اليقين درلود.
په حديث شريف كې راځي: عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ، فَأَتَى قَوْمَهُ فَقَالَ: «أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا، فَوَاللهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ». صحيح مسلم (٤ /١٨٠٦)
ژباړه:- د انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يوه رمه وغوښتله چې ددوه غرونو ترمنځ وه (يعنې دومره زياته وه چې ددوه غرونو منځ يې ډک كړى ؤ)، نو نبي عليه السلام وركړه هغه ته هغه رمه، هغه سړى خپل قوم ته راغى او وه يې ويل:اى قومه! اسلام راوړئ، قسم په الله چې محمد صلى الله عليه وسلم زيات خيراتونه وركوي او هيڅ له فقر څخه نه ويريږي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا يَسُرُّنِي أَنْ لاَ يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلاَثٌ، وَعِنْدِي مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَيْءٌ أُرْصِدُهُ لِدَيْنٍ» صحيح البخاري(٣ /١١٦)

ژباړه:- ابو هريره رضي الله عنه وايې . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: كه چيرې له ما سره د أُحد د غره په اندازه سره زر واى، ما نه خوشحاله کوي مګر داچې نه به تيريږي پر ما باندې درى (ورځې) او زما سره دې کوم شى پاتې وي البته هغه شى به راسره پاتې وي چې ما به ساتلى وي د قرض داداء کولو لپاره.

سخاوت د صحابه کرامو د غوره صفاتو څخه ؤ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هم خپل اصحاب په سخاوت باندې روزلي ؤ او هغوى به په سخاوت کې يو له بل څخه مخکې کيدل.الله تعالى د هغوى دسخاوت د صفت بيان داسې کوي:

﴿ وَالَّذِينَ تَبَوَّؤُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ [الحشر: ٩].

ترجمه:- او د هغو کسانو لپاره دي چې دوى له دغو (مهاجرينو) نه مخکې په دغه کور (مدينه) کې او په ايمان کې ځاى نيولى دى، دوى له هغو کسانو سره مينه کوي چې دوى ته يې هجرت کړى دى او دوى په خپلو سينو (زړونو) کې هيڅ غصه (او حسد) نه مومي د هغه (مال) په وجه چې دغو (مهاجرينو) ته ورکړى شو او دوى په خپلو ځانونو باندې (هجرت کوونکو ته) ترجيح ورکوي اګر که په دوى باندې تنګي(او حاجت مندي) وي او هر هغه څوك چې د خپل نفس له بخيلۍ نه بچ کړى شو،نو همدغه کسان کامياب (او په مراد رسېدلي) دي

په يو روايت کې راځي:عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: « أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ، فَوَافَقَ ذَلِكَ مَالًا عِنْدِي، فَقُلْتُ: الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا، فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟»، قُلْتُ: مِثْلَهُ، قَالَ: وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟» قَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، قُلْتُ: لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا» سنن أبي داود (٢ /١٢٩)

ژباړه:- زيد بن اسلم د خپل پلار څخه روايت کوي هغه وايې چې ما د عمربن الخطاب رضي الله څخه اوريدلي دي چې وه ويل: مونږ ته امر وکړ رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ه ورځ چې مونږ صدقه ورکړو، نو دا خبره زما د مال سره برابره شوه يعنې په دغه وخت کې زما سره مال موجود ؤ. په زړه کې مې وويل چې نن ورځ به له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه مخکې کيږم د زيات مال په صدقه کولو سره که چيرې زه ورڅخه په کومه ورځ مخکې شوى يم نو د خپل مال نيمايې برخه مې راوړه (د رسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته) نبي عليه السلام وفرمايل : آيا څه دې پريښودل خپلې کورنۍ ته؟ ما ورته وويل: هو ! په همدې اندازه مال مې خپلې کورنۍ ته پريښود. عمر رضي الله عنه وايې : ابوبکر صديق رضي الله عنه ټول هغه مال راوړ چې ورسره موجود ؤ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آيا څه دې پريښودل خپلې کورنۍ ته ؟ ابوبکر صديق رضى الله عنه ورته وويل: هغه څه چې مې خپلې کورنۍ ته پريښي دي هغه الله او دهغه رسول دى. و مې ويل: له تا څخه به مخکې نشم په هيڅ شي کې تر ابده پورې.

**د سخاوت ډيرى ګټې لري چې ځينې يې په لاندې توګه دي:**

١- سخاوت اجر او ثواب څو چنده دى. الله جل جلاله فرمايلي دى:﴿ مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ [البقرة: ٢٦١]

ترجمه:- د هغو کسانو مثال چې د الله په لار کې خپل مالونه لګوي د هغه دانې په شان دى چې اوه وږي زرغون کړي، په هر وږي کې سل دانې وي، او الله (اجر) زياتوي د چا لپاره چې وغواړي، او الله ډېر فراخۍ والا، ښه پوه دى

مسلمان ته په کار دي چې سخاوت ته د ګټې تجارت په سترګه وګوري او داسې فکر وکړي چې نن ورځ يوه روپۍ مصرفول په آخرت کې څو چنده اجر او ثواب لري. لکه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ [البقرة: ٢٤٥]ترجمه: هغه څوک دی چې قرض ورکړی الله تعالى ته، قرض په اخلاص، نو الله تعالى به يې هغه ته څو چنده کړي، په چندونو ډيرو او الله تنګوي (رزق) او پراخوي (رزق) او هم يوازې هغه ته به تاسي وګرځولى شئ.، وقال عزَّ وجل: ﴿ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾ [سبأ: ٣٩].

ترجمه:- او تاسو چې څه شى هم لګوئ، نو هغه د دغه (څيز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکى دى

**٢-** د سخاوت ګټه داده چې سخاوت کوونکى شخص به د قيامت په ورځ د ويرې او خپګان څخه په امان کې وي . الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [البقرة: ٢٧٤].

ترجمه:- هغه کسان چې خپل مالونه (د الله لپاره) لګوي په شپه کې او په ورځ کې، په پټه او په ښکاره، نو د دوى لپاره د خپل رب په نيز د دوى اجر دى، او نه به په دوى باندې څه وېره وي او نه به دوى غمژن کېږي

په يو حديث شريف کې راځي : عن عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «كُلُّ امْرِئٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتَّى يُفْصَلَ بَيْنَ النَّاسِ» أَوْ قَالَ: «حَتَّى يُحْكَمَ بَيْنَ النَّاسِ» قَالَ يَزِيدُ: وَكَانَ أَبُو الْخَيْرِ «لَا يُخْطِئُهُ يَوْمٌ لَا يَتَصَدَّقُ فِيهِ بِشَيْءٍ وَلَوْ كَعْكَةً وَلَوْ بَصَلَةً» المستدرك للحاكم (١ /٥٧٦) وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ

ژباړه:- د عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل( دقيامت په ورځ به) هرڅوک به د خپلې صدقې تر سيورې لاندې وي تر هغې پورې چې د خلکو ترمنځ فيصله وشي او يا يې داسې وفرمايل:ترڅو چې د خلکو ترمنځ حکم وشي يزيد راوي وايي چې د ابو الخير(مرثد بن عبد الله تابعي چې ددې حديث د راويانو له جملې څخه دی)داعادت ؤ چې دده څخه داسې ورځ نه خطا کيدله چې په هغه ورځ کې په څه شي خيرات ورنکړي ولو که هغه به يو کيک ؤ يا به پياز ؤ.

**٣-** په سخاوت سره د خلکو په زړونو کې محبوبيت او د خلکو زړونو ته خوشحالي او خوښي ور ښکل کيږي.

په سخاوت سره د خلکو زړونه له کينې او نفرت څخه پاکيږي او په محبت او اخلاص سره ډکيږي او د سخاوت کوونکي سره يې مينه او محبت پيداکيږي او بالآخره په ټولنه کې ورورګلوي او همکاري زياتيږي؛ ځکه چې انسانان سخاوت کوونکي خوښوي او ورسره مينه کوي.په يو روايت کې راځي:عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: «غَزَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ الْفَتْحِ، فَتْحِ مَكَّةَ، ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، فَاقْتَتَلُوا بِحُنَيْنٍ، فَنَصَرَ اللهُ دِينَهُ وَالْمُسْلِمِينَ وَأَعْطَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ مِائَةً مِنَ النَّعَمِ ثُمَّ مِائَةً ثُمَّ مِائَةً» قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ، أَنَّ صَفْوَانَ قَالَ: «وَاللهِ لَقَدْ أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَعْطَانِي، وَإِنَّهُ لَأَبْغَضُ النَّاسِ إِلَيَّ، فَمَا بَرِحَ يُعْطِينِي حَتَّى إِنَّهُ لَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ». مسلم (٤ /١٨٠٦)

ژباړه:- دامام شهاب زهري څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم غزا وکړه د غـزوة الفتح دمکې فتحه ،بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو ملګرو سره له مکې راووتلو او د حنين په مقام يې جګړه وکړه ، نو الله تعالى د خپل دين مرسته او نصرت وکړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه ورځ صفوان بن اميه ته سل اوښان ورکړل، بيا يې ورته سل اوښان ورکړل . ابن شهاب وايې چې ماته سعيد بن المسيب وويل چې بيشکه صفوان بن اميه

وویل: قسم په الله بیشکه ماته راکړل رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه چې یې راکړل او حال داچې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته تر ټولو خلکو مبغوض ترین شخص ؤ ، نو هغه بیا بیا ماته راکول(اوښان) تر دې پورې چې نبي علیه السلام خامخا تر ټولو خلکو ماته محبوب شخص دی.
که چیرې پورته واقعې ته ځیر شو وینو چې ترټولو سخت دښمن د سخاوت او عطا له امله تر ټولو خوږ دوست او ملګری وګرځیده.
**۴- سخاوت د مال د برکت او زیادت سبب دی.**
په سخاوت سره په مال کې الله تعالی برکت اچوي او زیاتیږي او الله تعالی ددې وعده کړی ده چې که چیرې تاسې زما دنعمت شکر وویست ، زه به درته نعمتونه زیات کړم او سخاوت د مال چې ستر نعمت دی د هغې شکر اداء کول دي. الله تعالی فرمایلي دی: ﴿ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾ [إبراهيم: ۷].
ترجمه:- او کله چې خپل رب مو خبردار کړئ چې که شکر مو ووېستو نو خامخا به (نعمتونه) در زیات کړم، او که ناشکري مو وکړه نو بې شکه زما عذاب ډېر سخت دی.
دا غلط او شیطاني ګمان دی چې په سخاوت سره مال کمیږي او ثروت له منځه ځي او انسان فقر ته نږدې کوي، دا ټولې شیطاني وسوسې دي چې شیطان یې د بخیلانو په زړونو کې اچوي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلاً وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ [البقرة: ۲٦۸]
ترجمه:- شیطان تاسي له بېوزلۍ نه وېروي او شرمناك چلن غوره کولو ته مو هڅوي، خو الله خپلې بخښنې او پېرزونې ته تاسي هیله من کوي، الله د پراخۍ څښتن او پوه دی.
په یو بل مبارک آیت کې راځي:( وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ). سبأ: (۳۹) .
ترجمه:- او تاسو چې څه شی هم لګوئ، نو هغه د دغه (څیز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی
په حدیث شریف کې راځي:(عن أبي كَبْشَةَ الأَنَّمَارِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:«ثَلاَثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ قَالَ: مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ، وَلاَ ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً فَصَبَرَ عَلَيْهَا إِلاَّ زَادَهُ اللَّهُ عِزًّا، وَلاَ فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلاَّ فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا». سنن الترمذي (٤ /١٤٠)
ژباړه:- د ابو کبشه الانماري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یي فرمایل:درې شیان دي زه د هغې پر حقانیت باندې قسم خورم او زه تاسې ته یو حدیث بیانوم نو هغه په یادو زده کړئ. هغه وویل: نه دی کم شوی مال دهیڅ بنده د صدقې له وجی نه ، او ظلم نه دی شوی په کوم بنده باندې چې هغه مظلوم پر ظلم باندې صبر وکړي مګر زیات به کړي الله تعالی د هغه مظلوم عزت او نه ده برسیره کړی یوه بنده دروازه د سوالګرۍ؛ مګر برسیره به کړي الله تعالی پر هغه باندې دروازه د فقر او یا یې داسې مشابه کلمه وویله.
**۵- سخاوت او ورکړه د ایمان دکمال علامه ده او په الله تعالی د نیک ګمان دلیل دی.**
**٦- سخاوت په دنیا کې د عزت سبب دی او په آخرت کې د کامیابۍ سبب دی.**
**۷- سخاوت کوونکی خالق پروردګار ته محبوب دی او مخلوقاتو ته هم نږدې دی او خلک یې تل صفت کوي او درناوی یې کوي.**
**۸- دسخاوت کوونکي دښمنان کم دي ځکه چې دده خیر ټولو ته رسیږي.**
۹-سخاوت کوونکی په ټولنه کې د مرستې او همکارۍ پیغام خلکو ته ورکوي او په خلکو کې دا شعور پیدا کوي چې زه هم د ټولنې غړی یم او د ټولنې په خدمت کې یم او د ټولنې له مشکلاتو څخه ګوښه نه یم.
۱۰- سخاوت کوونکی د نفس او شیطان دواړو سره تل په جګړه کې وي چې دانسي دښمن سره مقابله اسانه ده خو د

نفس او شیطان سره دښمني ګرانه ده ځکه چې د نفس او شیطان سره دا مبارزه دوامداره په هره لحظه کې ، شپه او ورځ کې جریان لري.

**ب: د بُخل بد انجام:**

بُخل د سخاوت ضد خصلت دی .امام قرطبي وايي:بُخل د انسان د هغه څه نه امتناع کول دي چې الله تعالی وربانـدې واجب کړي وي.

بخیل سړی دخیر په کارونو کې او په واجبي لارو کې خپل مال هم نه مصرفوي او نور خلک هم دسخاوت څخه منع کوي او هغه خلک ورته احمق ښکاري چې خپل مال په نیکو لارو کې خرڅ کوي. بلکې د هر هغه خیر مخه نیسي چې انسانان ورڅخه ګټه اخلي.بُخل هغه ناوړه خصلت دی چې پیغمبر علیه السلام ورڅخه پنا غوښتلې ده. بُخل د زړه لـه هغـو هلاکوونکو مرضونو څخه دی چې انسان له ټولو نیکیو څخه محروموي.

د بُخل مذمت او بد انجام د قرآن کریم په ګڼو آیتونو کې او بې شمیره نبوي احادیثوکې ذکر شوی دی، الله تعالی د بُخل مذمت په اوو آیتونو کې په مختلفو صیغو او تعبیراتو سره ذکر کړی دی.

**د بُخل د بد انجام څخه ځینې په لاندې ډول دي:**

**۱-** بخیل به په دنیا او آخرت کې په سختۍ کې وي. بخیل شخص ته د خیر او نیکۍ کارونه کول سخت وي او پـه آخـرت کې به هم په سختۍ کې وي او مال به ورته هیڅ ګټه و نه رسوي. اللـه تعـالی فرمـايلي دي: (وَأَمَّا مَن بَخِلَ وَاسْتَغْنَى . وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى . وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى) اللیل:(۸-۱۱)

ترجمه:- او چاچې بخیلي وکړه او (له خپل الله یې) بې پروایي وکړه. او ښه خبره یـې دروا‌غ وګڼلـه. نـو زر ده چې هغـه بـه سختۍ لارې ته تیار کړو. او مال به یې هیڅ شی ترې ایسار نه کړي کله چې هغه تباه شي.

مفسرینو ددې آیت په سبب نزول کې لیکلي دي چې د پیغمبر علیه السلام په زمانه کې د یو کافر پـه کـور کـې خرمـا ونـه ولاړه وه او څانګې یې د مسلمان کور ته ور اوږدې شوی وې، کله به چې د خرما له څـانګو کومـه د خرمـا دانـه د مسلمان کورته ور ولويده نو کافر به چغې کړی چې حرام دی او هغه مسلمان به د خرما دانه راواخیسته او د کافر کور تـه به ور واچوله .

یو ځل دخرما یوه دانه د مسلمان کور ته ور ولویده او د هغه مسلمان ماشوم بچي د خرما دانه خولی ته کړه ، کافر کور تـه ور داخل شو او دخرما دانه یې د ماشوم له خولی څخه راوویستله او ماشوم په ژړا شو ، هغه مسلمان رسول الله صلی اللـه علیه وسلم ته ددې حالت څخه شکایت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مشرک راوغوښتلو او ورته یې وویل: آیا ته دا خرما خرڅوئ ترڅو الله تعالی درته ددې څخه بهتره درکړي په جنت کې؟هغه مشرک وویل: زه عاجل شی په آجل نـه خرڅوم.ددې روایت په یو بل لفظ کې راځي چې نبي علیه السلام ورته وفرمایل:ته ډیـر زیـات بخیـل انسـان یې.دمشـرک خبره یو صحابي واوریدله له هغه څخه یې دخرما ونه واخیستله او مسلمان ته یی صدقه کړه.بحرالعلوم للسمرقندي (۳ /٥٦٥)

امام سمرقندي رحمه الله ددې آیت {فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى} په تفسیر کې لیکي: (یعني نخذله ولا نوفقه للطاعة فنیسر علیـه طریق المعصیة) بحر العلوم ( ۳ /٥٦٥) یعنې مونږ به یې پریږدو او د طاعت توفیق به نه ورکوو او ورته بـه د معصیـت لارې آسانه کړو.

**۲-** بُخل محض شر دی او هیڅ خیر په کې نشته او د قیامت په ورځ کې به مال د بخیل د غاړې طوق وي.

بخیل انسان فکر کوي چې بُخل دده په خیر دی ځکه چې مال به یې زیات شي او د عـزت خاونـد بـه شي ، خـو داسـې نـه ده بُخل کاملاً شر دی او دغه مال به په آخرت کې دده دغاړې طوق وي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) آل عمران: (۱۸۰)

ترجمه:- او چا ته چې الله له خپل فضل څخه څه ورکړي او دوی بخیلی پرې کوي، هیڅکله دې گومان نه کوي چې هغه به یې په خیر وي، بلکی هغه ورته شر دی، زر ده چې د قیامت په ورځ به یې هغه څه د غاړې امېل شي چې بخیلي یې پرې کوله، او د اسمانو او ځمکې میراث الله لره دی او الله په هغه څه ښه خبر دی چې تاسو یې کوئ.

**۳- د بخیلانو بد انجام دادی چې الله تعالی به ددوی په زړونو کې نفاق تر قیامته پورې مضبوط کړي.** الله تعالی فرمایلي دي: (وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ . فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ . فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَى يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ). التوبة:(۷۵-۷۷)

ترجمه:- او له هغوی نه ځینې داسې وو چې الله سره یې ژمنه کړې وه چې که له خپلې لورینې یې څه راکړل نو خامخا به خیرات کوو او نېك عمله به اوسو. نو کله یې چې له خپل فضل څخه څه ورکړل، بخیلی یې وکړه او څنگ کوونکي بېرته وگرځېدل نو بیا یې تر هغې ورځې په زړونو کې نفاق ور واچولو چې هغه سره به مخامخ کیږي په دې چې الله سره یې کړې ژمنه ماته کړه او دا چې دروغ به یې ویل.

دا آیت کریمه اگرچه دحقیقي منافقینو په باره کې نازل شوی دی ، خو په دې آیت کریمه کې سخت وعید پروت دی او ددې ویره شته چې د بخیل مسلمان په زړه کې هم عملي نفاق تر قیامته پورې مضبوط شي او قیامت کې به له نفاق سره راپاڅیږي.

**۴- الله تعالی به د بخیلانو په زړونوکې پروت بُخل او بدنیتي خلکو ته را ښکاره کړي.** الله جل جلاله فرمایلي دي:(إِن يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا وَيُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ). محمد:(۳۷)

ترجمه:- که چېرې هغه درنه وغواړي او ټینگار در باندې وکړي بیا به تاسې بخیلي وکړئ او ستاسې کینې به راڅرگندې کړي.

مفسرین وایي:( والمعنى يخرج ما في قلوبكم من البخل وكراهة الإنفاق). التسهيل لعلوم التنزيل لابن جزى (۳ /۵۲)

د آیت معنا داده چې (الله تعالی یا بُخل) به راوباسي هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي له بُخل څخه او دانفاق د بدگڼلو څخه.

**۵- څوک چې د الله تعالی له مال څخه انفاق نه ورکوي او هغه بُخل کوي، الله تعالی به ددوی په عوض کی نور قومونه راولي.**

الله تعالی د هغو خلکو بدانجام ذکر کړی دی چې الله تعالی ورته د انفاق کولو حکم کوي او هغوی له بُخل څخه کار اخلي ، الله تعالی وایي چې زه به دوی له منځه یوسم او ددوی پرځای به نور خلک پیدا کړم چې هغوی به بُخل نکوي.

الله تعالی فرمایلي دي:(هَا أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ ۚ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ ۚ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم). محمد:(۳۸)

ترجمه: خبر اوسئ تاسې هغه خلک یاست چې د الله په لار کې لگښت کولو ته رابلل کیږئ خو په تاسې کې ځینې بخیلي کوي او څوک چې بخیلي کوي نو هغه خپل ځان سره بخیلي کوي او الله غني او تاسي بې وزله یاست او که تاسي مخ وگرځوئ نو ستاسي په بدل کې به نور خلک راولي، بیا به هغوی ستاسي غوندې نه وي.

په پورتني آیت کې د بخیلانولپاره سخت وعید پروت دی او ددې ویره شته چې بخیلان هلاک کړي او پرعوض یې دسخاوت والاخلک پیداکړي.

**٦- د بخیلانو لپاره په آخرت کې د ذلت څخه ډک دردونکی عذاب دی.**

ځینې خلک خپله هم بخیلان وي او نورو ته هم په بُخل امر کوي. الله تعالی دداسې کسانو لپاره د ذلت ترځنگ دردوونکی عذاب مقرر کړی دی.الله تعالی فرمایلي دي:(الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗوَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا).النساء:(۳۷)

ترجمه:- هغوی چې هم په خپله بخیلي کوي او هم نورو خلکو ته د شومتیا سپارښت کوي او هغه څه پټوي چې الله له خپله فضله ورکړي او کافرانو ته مو سپکونکی عذاب چمتو کړی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ الْبُخْلِ وَمَنْ يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ).الحدید: (۲۴)

ترجمه:- هغه کسان چې بخيلي کوي او (نورو) خلکو ته هم په بخيلۍ امر کوي، او څوک چې مخ اړوي نو بېشکه همغه الله بې پروا ستايل شوی ذات دی.

**٧- هغه کسان چې د بُخل له وجې نه د مالونو زکات نه ورکوي، ددوی لپاره په آخرت کې سوزوونکی عذاب دی.**

کوم کسان چې د بُخل له وجې دخپل مال څخه زکات نه ورکوي په آخرت کې به په دغو مالونو سره داغل کيږي.الله تعالی فرمايلي دي:(وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ(٣٤) يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لأَنفُسِكُمْ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ). التوبة: (٣٥)

ترجمه:- او هغو خلکو ته هم د دردناکې سزا زېرى ورکړه چې سره او سپين ذخيره کوي او د الله په لار کې يې نه لګوي. په هغه ورځ چې دغه خزانې به د دوزخ په اور سرې شي بيا به يې تندي، اړخونه او شاګانې پرې داغل کيږي، (ورته وبه ويل شي) دا ده هماغه خزانه چې تاسو خپلو ځانونو ته راغونډه کړې وه (اوس) نو وڅکئ هغه چې تاسو ذخيره کول.

**٨- ملائکې بخيل ته ښيراوې کوي.**هره ورځ دوه ملائکې سخاوت کوونکی ته دعاء کوي او بخيل ته ښيراوې کوي.

په حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا». متفق عليه

ژباړه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: داسې ورځ نشته چې بندګان په کې صبا کړي يعنې راپاځيږي ؛ مګر دوه ملائکې را ښکته کيږي (له آسمان څخه) نو يوه يې داسې وايي: ای الله ! ورکړې نفقه کوونکي ته لوی عوض او هغه بله ملائکه داسې وايې: ای الله ! ورکړې بخيل ته هلاکت (د مال).

**٩- بُخل د هلاکت سبب دی.** بُخل تير امتونه هلاک کړي دي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ ». صحيح مسلم (٨ /١٨)

ژباړه:- د جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ځانونه له ظلم څخه وساتئ ځکه ظلم کول دقيامت په ورځ تيارې دي او ځانونه وساتئ له بُخل او کنجوسۍ څخه ځکه چې بُخل هلاک کړي دي هغه خلک چې له تاسو څخه مخکې تير شوي دي، بُخل هغوی اړ کړل ترڅو خپلې وينې توی کړي او حلال يې وګڼل د محارمو سره نکاح يا داچې حلال يې وګڼل هغه څه چې پر دوی حرام شوي ؤ.

**١٠- بخيل انسان به جنت په لومړي ځل داخل نشي؛** بلکې د حساب ورکولو او عذاب ځکلو څخه وروسته که الله تعالی وغواړي جنت ته به داخل شي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بَخِيلٌ، وَلا خَبٌّ وَلا خَائِنٌ وَلا سَيِّئُ الْمَلَكَةِ». مسند أحمد مخرجا (١ /١٩١)

دابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي داخل به -ژباړه: نشي جنت ته (په دخول اولي سره) بخيل شخص او نه دوکه باز او نه خائن او نه بد سرپرست او مالک.

**١١- بُخل او بد اخلاق په مؤمن کې نه جمع کيږي.** ځکه دبُخل تقاضا امساک او له رسولو څخه امتناع ده. په يو حديث شريف کې راځي:عن أبى سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال :« خَصلَتَان لا يَجْتَمِعَان فِي مُؤمِنٍ : البُخْلُ ، وسُوءُ الخُلُقِ». الأدب المفرد بالتعليقات (ص: ٦٣)

ژباړه:- د ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: دوه خصلتونه دي چې په مؤمن کې نه جمع کيږي يو بُخل او بل بداخلاق.

**١٢- د بُخل د بدانجام څخه دا هم دي چې بخيل سړی دانفاق له خير څخه محرومه وي.**

**۱۳-** سخي شخص الله تعالی ته هم محبوب وي او دالله تعالی بندگانو ته هم محبوب بالعکس بخیل شخص دالله تعالی هم نه خوښیږي اودالله د بندگانو هم نه خوښیږي او خلک ورڅخه کرکه او نفرت کوي ، آن چې خپله ښځه او اولاد هم ورڅخه نفرت کوي او په ځینو وختونو کې دبخیل مشر د مرگ ارزو کوي.
رزق د محرومیدو سبب دی لکه څرنگه چې سخاوت د رزق د وسعت او پراخۍ سبب دی،بُخل د انسان د ۱۴-بُخل د تنگسیا او دسخت ژوند سبب دی.
**۱۴-** بخیل شخص تل گناهگار وي، ځکه چې بخیل حقوق الله او حقوق العباد نه اداء کوي.
**۱۵-** بخیل شخص ددنیا له لذتونو او خوندونو څخه محرومه وي.
**١٦-** بُخل د یهودانو خصلت دی او مسلمان باید د یهودي صفت څخه ځان وساتي.